(١)

## ملی یووالی د هیواد د پیاوړتیا لاره ده

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **« وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا»ژباړه:« ټول یو ځای شئ، د الله رسۍ کلکه ونیسئ او تیت و پرك کیږئ مه. »** او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

ډیرو درنو مسلمانانو ورونو پیغمبر صلی الله علیه وسلم مونږ او تاسو ته داسی رسالت راوړی دی چې د یووالي او میني او محبت غوښتنه کوي د بی اتفاقي اود بدبختیو څخه منع کوي هغه د عربو بیلابیل ډلی چې راشیندل شوی وو راټول کړل او یوامت یی تری جوړ کړ او د هغوي ترمنځ ایمان ورورولي رامنځته کړه او د هغوي په زړونو کې یي د میني او د محبت لاره رامنځته کړه لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ» او په بل ځاي کې فرمایي:« وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ لَوْ أَنْفَقْتَ مَا فِي الأَرْضِ جَمِيعًا مَا أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَكِنَّ اللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ إِنَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ»ژباړه:« او د مؤمنانو زړونه یي یو له بل سره ولګول. که تا د ځمکي د مخ ټولي خزانې لګولي هم وای نو ددې خلکو په زړونو کښي دي خپل منځي مینه نشوای اچولای. خو الله دی چې د دوی زړونه یي سره ولګول؛ په یقیني توګه هغه ډېر زورور او د حکمت څښتن دی.» همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم امر کړی دی چې باید پخپل منځو کې مینه محبت او د مهرباني څخه کار واخلو پیغمبر صلی الله علیه وسلم

فرمايلي دي: د مومنانو مثال په مينه محبت او په مهرباني کې د يو بل سره د يو بدن په څير دى کله چې د بدن يو غړى د درد څخه شکايت کوي نو ټول بدن ورسره پعذاب وي.
دغه يووالي او مينه او محبت يواځي د مسلمانانو پوري اړه نلري بلکې دا ټولو ته شامليږي الله جل جلاله فرمايي:« يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ »ژباړه:« اې خلکو! موږ تاسي له يوه نارينه او يوې ښځې څخه پيدا کړئ او بيا مو تاسي قومونه او قبيلې وګرځولئ، تر څو چې تاسي يو او بل سره وپيژنئ. په حقيقت کښي د الله په وړاندي ستاسي څخه تر ټولو زيات عزتمند هغه څوك دى چې په تاسي کښي تر ټولو زيات پرهېزګار وي. په باوري ډول الله په هر څه پوهېدونکى او باخبره دى.» همدارنګه قرانکريم پدي باندي ټينګار کړى دى او په قران کي انساني ورورولي هم ياده کړى ده چې د انبياؤ او د هغو کسانو ترمنځ هم شته دى چې په عقيده کې ورسره مخالفت ولري لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَإِلَى عَادٍ أَخَاهُمْ هُودا»ژباړه:« او د عاديانو لوري ته موږ د هغو ورور هود (ع) ولېږه.» او په بل ځاي کې فرمايي:« وَإِلَى ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا» ژباړه:« او ثموديانو ته موږ د هغه ورور صالح (ع) ولېږه.» اوبيا فرمايي:« وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا»ژباړه:« او د مدين اوسېدونکو ته موږ د هغوى ورور شعيب (ع) ولېږه؛»او کله چې الله جل جلاله د پخوانيو انبياؤ او د رسولانو کيسي مونږ اوتاسو ته بيانوي لکه چې فرمايي:« وَإِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ»ژباړه:« او دا ستاسي اُمت، يو اُمت دى او زه ستاسي رب يم؛ نو له همدا ما څخه ووېرېږئ.»او بيا فرمايي:« إِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ»ژباړه:« دغه ستاسي اُمت په حقيقت کښي ايکي يو اُمت دى او زه ستاسي رب يم، نو تاسي زما عبادت وکړئ؛»امام بغوي رحمه الله فرمايلي دى: الله جل جلاله ټوله انبياء د دين د ساتني لپآره

راليږلي دي او همدارنګه د خلکو ترمنځ د میني او محبت د رامنځته کولو او د بی اتفاقي د لمنځه وړلو لپآره یی راليږلي دي.
بی له شکه چي د اسلام دعوت ملي یووالي او همدارنګه میني او محبت ته دی او بی اتفاقي اوعنانیت یی لمنځه وړی دی اوهمدا د ملي یووالي لاره د هیواد د پیاوړتیا او د ټولني د ساتني لپآره یو مهمه لاره ګڼل کیږي ځکه که یو وګړي په ټولنه کي هر څومره پیاوړی وي خو بیا هم د ټونلي په نسبت باندی هغه کمزوری دی ځکه چي که ټولنه یی کمزوری شي نو هغه به هم ورسره کمزوری کیږي په مقابل کي که چیرته یووګړی ډیر ضعیف هم وي خو ټولنه یی بیا پیاوړی وینو هغه خپل قوت د ټولني د قوت څخه اخلي چي هغه پکي ژوند کوي نو د همدي لپاره د اسلام مبارک دین د هیوادوالي ارزښت ډیر لوړ کړي دی او ټینګار یی کړی دی چي هیواد دټولو هیوادوالو لپآره دی او دوي ټول پدي باندی ژوند کوي ځکه چي د ملي یووالی ساتنه ددی غوښتنه کوي چي باید د هیوادوالو ترمنځ بی اتفاقي لمنځه یوړل شي او ددین د بنسټ په اساس باندي هیوادوالي رامنځته شي چي د خلکو ترمنځ د رنګ اود جنس اونورو له کبله توپیر ونشي ځکه چي عرب په عجم باندي غورهوای نلري سپین په تور باندي مګر دا چي څوک ډیر تقوا ولري او نیک کارونه وکړي نو د همدی لپآره د مدیني منوي وثیقه چي پیغمبر د دغه ښار د یهودو سره لاسلیک کړی وه یهودو ته یی ټول هغه حقونه ورکړي وو چي مسلمانانو هلته لرل چي پدي کي آزادي، امنیت، سلامتیا، او داسی نور راځي او همدارنګه هغوي پدي باندي لازمي ګرځولي وو چي د مسلمانانو سره یو ځاي د مدیني منوري څخه په ګډه دفاع وکړي ترڅو پدي باندي ټینګار وکړی شي چي دا یو قوي او پیاوړی ټولنه ده او هیواد په اسلام کي ټولو هیوادوالو ته شامليږي او ټولو ته پراختیا مومي ترهغه وخته پوری چي ټول هیوادوال ټول مسئولیتونه او وجایب په ښه توګه سره اداء کړي.

همدارنګه د اسلام مبارک دین د کار ارزښت ډیر لوړ کړی دی او د ټولنیز کار روح ته یی وده ورکړی ده او همدارنګه د ملي یوالي اود یو صف ودریدل او د هڅو یو ځای کول او د اختلافات لمنځه وړل په هر زمانه او هر ځایکي د امت د وجایبو څخه یی ګرځولی دی الله جل جلاله په قرانکریم کې مونږ ته امر کړی دی لکه چې فرمایی:« وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا» همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:الله جل جلاله پدي باندي راضي شوی دی چې تاسو ته دری شیان وټاکې او په هغه باندی راضي کیږي او دری شیان یی تاسو ته بد ګرځولي دي هغه چې پری راضي کیږي هغه دا دي چې د هغه عبادت وکړي شرکورسره مکوي ټول د الله جل جلاله په رسی باندی منګولي ولګوي او بی اتفاقي مکوي او هغه شیان چې ورباندي خفه کیږي او بد شیان دي هغه د یو چا څخه ډیري پوښتني کول او همدارنګه د مال ضایع کول او داسی نور راځي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم د امت لپآره په یووالي او همدارنګه په یو صف ساتلو غوره مثال ورکړي دی او هغه یی د یو قوي دیوال په څیر ګرځولي دی پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې یو مومن د بل مومن لپاره د خښتي په څیر دی چې یو بل پري پیاوړی کیږي .

همدارنګه قرانکریم مونږ او تاسو لپاره د ملي یووالي مثالونه بیان کړی دی چې دا پخپله ددی لامل ګرځي چې د هیوادونو ساتنی وشي د ټولنی سلامتیا پاتی شی نو د همدی لپاره یوسف علیه السلام چې کله بنسټیز پلان جوړولو نو ټولو ورسره مرسته وکړه او همدارنګه د هغه د اهدافو ترشا ودریدل او هغه یی په واقعیت کي پلي کړ هغوی یو له بل سره مرسته وکړه او د خپل توان په اندازه باندی یو له بل سره ځاي شول او د هغه ټاکل شوي لاري څخه سم پرمخ ولاړل ترڅو هغه موخو ته ورسیږي چې ټاکلي یی وو او د هیواد لپآره هوساینه پرمختګ پیاوړي اقتصاد رامنځته کړي همدا وو چې د نړي د ګوډ ګوډ څخه ورته خلک راتلل او د مصر د

ورکړي څخه يې ګټه بورته کوله لکه چې الله جل جلاله د يوسف عليه السلام په ژبه باندي فرمايلي دي:« قَالَ تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا فَمَا حَصَدتُّمْ فَذَرُوهُ فِي سُنبُلِهِ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّا تَأْكُلُونَ * ثُمَّ يَأْتِي مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَأْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّا تُحْصِنُونَ * ثُمَّ يَأْتِي مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ»ژباړه:« يوسف (ع) وويل: "تر اوو کلونو پوري به تاسي د کروندو د کښتونو په کرکيله بوخت شئ. په دې دوران کي چي تاسي کوم کښتونه لو کړل، له هغو څخه يوازي لږ غوندي برخه چي ستاسي د خوراك لپاره په درد خوري، راوباسئ او نور پخپلو وږو کښي پرېږدئ. * بيا به اوه کلونه ډېر سخت (د وچکالۍ او قحطۍ) راشي. په هغه زمانه کښي به هغه ټوله غله وخوړله شي چي تاسي به يې د هغه وخت لپاره راغونده کړئ. که څه وسپميږي، نو هماغه به وي چي تاسي (د تخم لپاره) خوندي ساتلي وي. * له هغه وروسته به يو کال داسي راشي چي د رحمت په ورښتونو سره به د خلکو فرياد واورېدل شي او هغوی به په هغه وخت کي (د مېوو او غوړيو دانو) شيره را وباسي."».

همدارنګه د اسلام مبارک دين ددي غوښتنه کړې ده او امر کړی دی چې هر هغه چاره چې د ملي يووالي اود ټولني د پياوړتيا لامل ګرځي نو هغه بايد په نظر کې ونيول شي همدا ده چې نرمښت رحمت او د مهرباني غوښتنه يې کړې ده لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ»ژباړه:« [اې پېغمبره (ص)!] دا د الله لوی رحمت دی چي ته ددې خلکو لپاره ډېر نرم خويه جوړ شوی يې، که داسي نه وای او ته توند خويه او سخت زړی وای، نو دا ټول به ستا له شا وخوا څخه خواره شوي وای. د دوی خطاوي وبښه، د دوی لپاره بښنه غواړه؛ او د دين په چارو کښي هغو ته هم په مشوره کي برخه ورکړه، بيا چي ستا اراده پر کومه رايه ټينګه شي؛ نو پر الله توکل وکړه. د الله هغه خلك خوښيږي چي د

هماغه په ډاډینه کار کوي.» نو رحمت او نرمښت او مهرباني خپله ددی امل ګرځي چې مینه محبت او د زړونو ترمنځ ملي یووالي رامنځته شي لکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:چې دین اسانه دی او دین په چا باندی هیڅکله هم نه سختیږي مګر دا چې انسان په هغه باندي پوه نشي نو تاسو یو له بل سره مرسته کوي او یو بل ته ځان نژدی کړی او یو بل ته زیری ورکړي همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي زه په نرمښت اوپه سمه لاره باندي رالیږل شوی یم.
همدارنګه د اسلام مبارک دین یووالي سولي او د محبت وښته کړی ده چې د ټولني د وګړو ترمنځ رامنځته شي اګر د هغوي عقیدي یو له بل سره توپیر هم ولري لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا»ژباړه:« خلکو ته ښي خبري کوئ» بیا فرمایي:« لَّا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ»ژباړه:« الله تاسي له دې خبري څخه نه منع کوي چې له هغو خلکو سره د نېکۍ او عدل چلند وکړئ چې د دین په باب یې ستاسي سره جنګ ندی کړی او تاسي یې له خپلو کورونو څخه نه یاست ایستلي. الله عدل کوونکي خوښوي»همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې مسلمانانو چال او چلند باید د نورو څخه د همدي قراني ایتونو په رڼا کې وي همدا وو چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د نورو خلکو سره هم نیکي کوله او د هغوي ډالی یی قبلولي او د هغوي د ناروغانو پوښتني یی کوله ترڅو هغوي ته دا وښایی چې دغه دین د زغم او نرمښت څخه ډک دین دی او پدی ترڅ کې د ټولني د یوالي ساتنه وکړي.
د نن ورځي د وجایبو څخه او همدارنګه د لومړیتوبونو څخه دادي چې د هیواد ټول وګړي باید په اخلاص سره دا درک کړي اود اوسني پړاو باندي ځان پوه کړي او ټول په یو صف باندي ودریږي ترڅو د خپل هیواد لپاره په هر ډګر کې چې وي ګټه ورسوي د طب خاوندان باید پخپل برخه

کې هیواد ته خدمت وکړي د قانون انجینري د زراعت ښووني او روزني او نور ټول هر سړی ځپل برخه کې باید په صناعت او په نورو برخو کې د هیواد دپیاوړتیا لپآره کار وکړي او همدارنګه هغه وګړي چې پخپأ لاس کار کوي او ځیني مصرف کوي او همدارنګه خلکو ته کسبونه ښايي دا ټول باید د خپل کار په ترلاسه کولو کې د اخلاص څخه کار واخلي او ټولو انرژیو او همدارنګه د ورکړی څخه ګټیپورته کړو چې د هیواد خدمت پری وکړوهمدا زمونږ دین له مونږ څخه واړي ځکه چې الله جل جلاله مونږ ته د جمع په صیغه باندي خطاب کړي چې هیڅوک یی د کار او د هڅي څخه ندي استثناء کړی لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِن رِّزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ»ژباړه:« هغه ذات چې ستاسي لپاره یې ځمکه پسته هواره او تابع کړېده، د هغې پر سینه باندي ګرځئ او د خدای روزي خورئ، د هماغه حضور ته ستاسي په دوهم ځل ژوندي کېدو سره ورتګ دی.»او بیا فرمايي:« فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ»ژباړه:« بیا کله چې لمونځ تر سره شي، نو په ځمکه کښي خواره شئ او د الله فضل ولټوئ. او د الله ډېر ډېر یادوونکي اوسئ. ښايي چې تاسي ته بری په برخه شي».

## اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او

برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.
**ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:**
د تاريخ په پيښو کي که يو څوک په ښه توګه فکر وکړي نو دا ښه درکولي شي چې بی اتفاقي او اختلاف د ماتی او کمزورتيا د لاملونو څخه مهم لاملونه ګڼل کيږي پيغمبر صلی الله عليه وسلم او همدارنګه قرانکريم مونږ ته خبرداری راکړي چې ددی څخه بايد ځان وساتو لکه څنګه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ»ژباړه:« پام کوئ! تاسي د هغو خلکو غوندي نشئ چي په ډلو وويشل شول او له روښانه څرګندو لارښودنو موندلو څخه وروسته بېرته په شخړو کښي اخته شول، چا چې دا چلن غوره کړيدی، هغوی به سخته سزا وومومي؛»او بيا فرمايی:« وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ»ژباړه:« او د الله او د هغه د پيغمبر امر منونکي اوسئ؛ او په خپلو منځو کښي شخړه مه کوئ، که نه نو په تاسي کښي به کمزوري پيدا شي، برم (د مقاومت توان) به مو لاړ شي. له زغم څخه کار واخلئ، په يقيني توګه الله د صابرانو ملګری دی».
همدارنګه بی اتفاقي او اختلافات پخپله د امت دبدبه لمنځه وړي او کمزوري رامنځته کوي چې دا ټول د اختلافاتو له کبله رامنځته کيږي اسلام د هر هغه کار غندنه کړی چې د اختلافاتو او بی اتفاقی لامل کيږي لکه عنصريت او داسی نور نبي کريم صلی الله عليه وسلم پدي باندي په بيلابيلو احاديثو کې ټينګار کړی او ويلي دی په حقوقو او وجايبو کې ټول خلک برابر دي لکه چې فرمايي: ای خلکو ستاسو رب يو دی پلار مو يو دی عرب په عجم او عجم په عرب هيڅ فضيلت نلري مګر په تقوی باندي.

ای الله زمونږ صفونه يو کړې زړونه مو يوځای کړې او د هغه څه توفيق راکړې چې ته پرې راضي کيږي په کار او وينا کي مو اخلاص پيدا کړې زمونږ د مصر ساتنه وکړې او په نړۍ کې يې بيرغ هڅانده ولرې.